مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۳/۰۸/۰۹

# تور عطر

لا ماشوم وم چې بوډا شوم

ما ځواني ونه ليدله

ما له دې لوى سمندره

يوه لپه ډکه نه کړه .

هاى افسوس د زماني په يوه ستوې زخمي لارې

هغه پړانګ او هغه تللي سپين آسان

بيرته بيا راستانه نه شول

نه مې هم هغو غمونو له زخمونو مالګي يووړې

چې يو وخت يې له سبا او بل سبا نه ډارولم

نه هم هغه خوږ شمال راپيينه وکړه

چې ښې يې هميشه

ستا د سترګو په تور عطر به لمدي وې

+ + + +

انتظار مې سترګي نورې هم زړې کړې

په ښپليو مې تناکي راشني شوي

نو آسمانه!

بس يو سوال دى که مني يې

ځو شيبې دې خپل لاسونه ماته راکړه

فقط غواړم خپل ګريوان پرې وشکومه

زما خپل لاسونه نه شته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغوی مانه دا ډېر وخت شو هلته لیږی

لکه بوټي د یو سیند په لویه غاړه راشنه شوي

هو!

هغوي غواړي

یوه ورځ کوم اوبو وړي ته پکار شي




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ